# د ډاکټر صاحب شاه صابر د نظم باغي تر مخه پښتون شناحت

**Mohammad Qurish***

**Dr. Sher Zaman Seemab****

**ABSTRACT**

**Identity is a feeling of an individual or group, of being perceiving to himself or themselves and relating to others or society. This complex idea or concept that defines a group is a set of certain traits that a person or group consider very unique for themselves. History, language, culture, values etc are the aspects which are shared by identity.**

**Identity is a major theme of literature. Through literature, we can perceive how individuals perceive themselves and others. Issue relating to language, culture, gender and nationality are examined by the authors.**

**Sahib Shah Sabir is a renowned and famous poet among Pashtoon poets. His poetry replete the themes of identity . Apart from his unique personal traits, we find him a nationalist poet, for whom identity value the most. In his selected poem titled as BAAGHI (rebellious), the theme of identity can be best observed. This poem, which is a sort of dialogue and is a short metered, is the best expression of national identity from a pashtoon point of view. This poem clears the stereotyped spots on a nation by the other nation .**

**Key Words;**

**Pashtoon Identity, Personal traits, national identity, BAAGHI (rebellious),**

د شناخت په حواله پۀ افاقي کچ بحثونه روان دي دا اوس د نړۍ قامونو دپاره اصل شخړ ګرځېدلے ده دنړۍ ډېرو قامونو ته د خپل شناخت په حوالي سره ويره ده هم دا ډول پښتون شناخت سره هم دا شخړه روانه ده په ځيني حوالو د خپل اصل نه اخوا د مبالغې سره د پښتون قوميت شناخت وړاندے کړے شوے دے په

ځینې ادبي تنقیدي بحثونو کښې پښتون رجعت پسند قدامت پسند او بنیاد

* PhD Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar

**Assistant Professor, Pashto Academy University of Peshawar

پرست ښودلے شوے دے د دې بر عکس په ځینې بحثونو کښې د پښتون شناخت ترقي پسند،

روښان فکره ښودلے شوے دے په دې مقاله کښې ډاکټر صاحب شاه صابر باغي نظم ترمخه

پښتون شناخت څېړو چې د دې هدف دپاره لږ تر لږه د شناخت په معنا مفهوم ځان پوهه کړو په دغه نظم کښې پښتون شناخت قامي ،تهذیبي، تاریخي ، کلتوري او معاشي اړخونه وګورو.

**شناخت:**

شناخت د بنیادي پیژندګلو نامه ده. هغه خویونه صفتونه چې یو انسان یو مقام یا یو تحریک پرې پېژندلےشي،دشناخت مترادفات په پښتو کښې پیژندګلو، پېژندل ، پوهیدل اوبنیادي نقشه او کړۀ وړۀ ــ په عربي کښې معرفت عرفان او هویت په انګریزي کښې identity اردو کښې جان پهچان اګاهي واقفیت ــ په بنیادي توګه شناخت د فارسي نه اخذ شوے دے چې اصل متن ئي ادراک دے.

دلته د ځینې لغاتو په رڼا کښې د شناخت تعریف راؤړو. د فارسي لغت د شناخت معنا داسې ښائي!

> شناخت ، معرفت ،ادارک،معرفت شناسي، شناخت شناسي،دانستن، شناختن ، خبرداستن،دربه رسميت شناخت ، قابل تشخیص، مشخص، شناختن[1]"

انسائیکلو پیډیا اردو ترمخه!

> اصل فارسي اسم مونث،پهچان ، پرکهه تمیز، شناسائي، جان پهچان،شناخت کې مترادفات ــ تعارف ،عرفان دانست،علم ــ شناخت کے مرکب الفاظ ــ ناقابل شناخت ،بے شناخت[2]

دا خو وو د اردو فارسي لغاتو ترمخه د شناخت تعريفونه پر قرآن پاک کښې په سوره الحجرات دیارلسم آيات کښې خدائے پاک فرمائې: ؛

” يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى وَ جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْاؕ[3]

ژباړه: اے خلقو بې شکه ما تاسود یوناریينه یو زنانه نه پېداکړئ او له تاسو څخه مې قومونه او قبيلې جوړې کړي دي دپاره چې تاسويو بل او پيژنئ!

د پورتنې تعريفونو او قرآني آيات نه دا جوتيږي چې شناخت د انسان هغه بنيادي پيژندنه ده چې د هغې په زريعه د يو چا د قوم قبيلې خوئې خصلت کړۀ وړۀ او ژوند ژواک معلومولے شي.

اوس که مونږ پښتون شناخت ګورو نو لکه څنګه چې اووئيلے شو چې په دې حقله په ځينې حوالو سره د مبالغې نه کار اخستل شوے دے او نه صرف د قام قبيلې پحقله پکښې لاس وهنې شوي دي نو په تهذيبي کلتورې او معاشې توګه د خپل اصالت نه اخوا د پښتون شناخت ښودلے شوے دے .

صاحب شاه صابر د عصر نمائنده شاعر، نقاد او محقق ګڼلے شي ـ د اميرکروړ نه ترارزاني خوېشکي او بيا تر خوشحال رحمان او بيا تر عصر پورې په پښتون شناخت په شعوري توګه کار شوے دے او په ضخيم الحجم مقدار کښې متون تشکيل کړے شوے دے نو په دغه کښې د صاحب شاه صابر باغي نظم يو داسې شاهکار نظم دے چې کردارونه ئې که هر څومجهول دي ولې بيا هم ډېر په هنر يو مکالمه ترپائې بوځي په دغه نظم کښې صاحب شاه صابر په ډېر مدلل انداز د پښتون په قامي،تهذيبې،تاريخې،کلتورې او معاشي شناخت خبره کوې دا نظم په څوبرخو کښې ويشلے دے اول هغه برخه چې د پښتنے شناخت په حواله مبالغې او مغالطې د يو مجهول کردار په شکل راوړې لکه څنګه چې نن هم دنيا ته پښتون د وحشت ديو سمبول په توګه وړاندې کړے شوے دے صاحب شاه صابر د خپل نظم پېل ددې خبرې نه کوې چې "هغه وي چې ته وحشي ئې " يعني پښتون شناخت سره په تهذيبې ،تاريخې او کلتورې توګه داشخړه د شناخت په حواله راروانه ده دلته چې دا نظم په لانديـنو برخو کښې وېشو

١-قامي شناخت

۲-تهذيبي کلتورې شناخت

۳-تاريخي شناخت

۴-معاشي شناخت

او په پايې کښې د صاحب شاه صابر د نظم ترمخه د پښتون شناخت په حواله تنيجه اخذ کړو.

**۱ ـ قامي شناخت**

مخکښې ددې نه چې باغي نظم کښې پښتون شناخت باندې خبره وکړم د قوم تعريف اوشي او بيا اوګورو چې صاحب شاه صابرپه خپل نظم کښې پښتون قامي شناخت څنګه وړاندې کړے دے

اردو نسيم اللغات د قوم تعريف داسې کوي!

"آدمیوں کا گروہ، فرقہ، خاندان، نسل ذات"(4)

ژباړه: "د بنيادمو ټولګے، ډله، کورنۍ، نسل ذات"

د چېمبر ډکشنرۍ ترمخه:

"Body of people marked of by descent, language, culture or historical tradition the people of a state."(5)

ژباړه: "د خلقو يوه ډله چې ژبه، ثقافت او تاريخي دود دستور لري د يو رياست وګړي وي. "

د پورتنو حوالو نه په دې اورسېدو چې قوم د خلقو يو ډله چې ژبه، ثقافت ،نسل لرې په يو وطن کښې اوسي يعني د انسانانو هغه ډله چې د يونسل نه وي خپل کلتور لرې خپله ژبه لرې د يو وطن اوسېدونکي وي . اوس چې عصر حاضر ته ګورو داسې قامونه شته دے چې يورنګ ژبې وائې خو يوقام جوړنه شو لکه امريکه برطانيه، لاطيني امريکه او سپين هم دغه يو رنګ ژبې وائې خو قام جوړنه شو خو دلته که بيا د پښتو قامي شناخت ته ګورو نو دا هم په پاکستان،هندوستان او افغانستان په بېلابېلا وطنونو کښې پښنانه د جغرافيه په وېش خوسره بېئل دي خو د ژبې له وجې لاتر اوسه د يو قام په تار تړلے دي د عصر نمائينده شاعر رحمت شاه سائل په خپل يو شعر کښې د پښتون قام په اړه دا ويره ښکاره کړے لکه چې ورته وائې!

د خاورې په تقسیم خونه تقسیم شوې نه جدا شوې
د ژبې غلامی که ورک کړي بویه که پیدا شوي.[6]

سائل صیېب په دې شعر کښې پښتون ته د شناخت په حواله مخاطبه کړې ده چې په جغرافیائې وېش له وجې تا شناخت بائیللي نه دې خو که ژبه دې غلامه شوه نوبیا داسې ده چې ورک شوې.
مونږ دا وئیلې شو چې کوم قامونه په تهذیبي ،کلتورې ، تاریخي او نسلي توګه کلک تړون لرې یوه ژبه وائې په یو جغرافیه کښې ژوند کوې نو هغه قوم یا قام بللے کېږي

اوس دلته چې د صابر نظم ګورو هغې کښې چې د پښتون د یو قوم په توګه د شناخت خبره کوو نو په هغې کښې یو کلک تهذیبي،کلتورې،تاریخي تړون د پښتون وړاندې شوې دې –

په دغه نظم کښې د پښتون شناخت په حواله سره مکالمه ده او پېل یې له دې نه دې چې وائې !

"هغه وې چې ته وحشي یې"

لکه څنګه چې د پښتون شناخت د حقیقت نه اخوا د وحشت او دهشت د سېمبول په توګه وړاندې کړل شوېدې چې ګنې پښتون بد تهذیبه،بد حصلته،رجعت پسند،اوقدامت پسندې نو هم دغه پښتنې د باغي نظم اوله برخه ده او بیا ورته صابر د یو پښتون کردار په صورت خپله پېژندنه کوې چې مخکښې پرې تهذیبي شناخت کښې خبره کوو -

١ ـ د پښتون تهذیبي او کلتوري شناخت

باغي نظم کښې تهذیبي او کلتورې شناخت حوالې سره د مکالمې اوله برخه کښې پښتون ته تهذیب او کلتور پېغور شوې دې لکه چې وائې !

هغه وې چې ته وحشي ئې
د فطرت غلام قیدي ئې
بې تهذیبه بدحصلته
د خپل جهل زنداني ئې[7]

یا دا چې!

دا چې ستا کوم ثقافت دے
دا خو ظلم دے وحشت دے[8]

او بیا مخکښې وائي چې تاسره د ننګ او مینې څهٔ دي سېوا د یو څو نښترو سروو ،چېنارونو یا د غرونودوچوکانوستازرتشت لیونے وه ګوتم بده هیڅ سړے نهٔ وو خوشحال،رحمان،مرزا خان او دولت لوانړے تش غریبان او لېوني وو

اوس چې د پښتون وطن تهذیبي شناخت ته ګورو نو نو پښتونخوا د تهذیبونو ځانګو ده دلته د زرتشت او ګوتم بده د امن او مینې نښې نښانې اوس هم شته او بیا د ادبیاتو په حواله که یواځې د خوشحال او رحمان سبق وګورو نو لوړ انساني افکار ئې د شعر د لارې په اسان ډول نسلونه ته منتقل کړي دي

بیا د کلتورې غونډو د لارې د حجرو په مجلسونو کښې د سازونو دا لارې تر یو نالوستلے پښتون هم رسېدلے دي چې یوه لویه تهذیبي پنګه ده

د مکالمې د ځواب برخه کښې بیا صابر وائي !

په تیارو کښې به خړوب یم
خو بیا هم په سړیتوب یم
د خپل ملک د تندې خال یم
په خپل کور کلي خوشال یم
د انسان ازادۍ غواړم
د هر قام ازادۍ غواړم
د هر علم قدردان یم
د فنونو ثناخوان یم[9]

او بیا مخکښې وائي چې ته په مامئېن ئې ماته ځان ستائې په ما غمژن ئې ماته تهذیب ښائې نو په ما یرغل ولې کوې دا فوځونه دې واپس کړه ،دا جهازونه دې واپس کړه د بارودو کرل بس کړه یعنې یو زورور نقد دے چې ماته وحشي وائي او الټه وحشت په ما کوې یعنې په یو قام د یرغل د پاره د هغه تهذیبي کلتورې شناخت پورې ملنډې کول او بیا پرې د وحشت او دهشت یلغار کول او لوټل دلته مونږ دا وئېلے شو چې د پښتون تهذیب کلتور د خپل اصالت نه اخوا شودل نه فقط د یو قام د تهذیب د ورکولو هڅه بلکې دا په یو قام د جنګ مسلط کولو د

پاره یرغل کولو د پاره جواز جوړول وو چې باغي نظم دغه کردار په ډاګه کړے دے

۲ ـ تاریخي شناخت

پښتون که هر څو یو ځلنده تاریخ لري تر هنده ئې بادشاهۍ کړې دي لکه څنګه چې **خوشحال بابا وائې**

**د بهلول او د شېرشاه خبرې اورم**
**چې په هند کښې پښتانه وو بادشاهان**
**شپږ اوه پېړۍ ئې هځې بادشاهي وه**
**چې په دوي پورې درست خلق وو حېران**[10]

**د خوشحال بابا د شعر په رڼا کښې وئېلې شو چې پښتنو په هند شپږ اوه پېړۍ بادشاهي کړې ده او د درستې نړۍ خلق ورته حېران ووباغي نظم کښې مخکښې پښتون ته د تاریخ په حواله پېغور کېږي لکه چې وائې !**

**ایمل خان د تورې نه وو**
**دریا خان غرېب د څه وو**
**مېرویس خان دنیا ته پړ کړو**
**چې ګورګېن غرېب ئې مر کړو**
**احمدشاه جهان لتاړ کړو**
**ګوره ټول هند یې ویجار کړو**[11]

**اوس هند پښتنوویجاړکړے نه بلکې اباد کړے ئې دے نن هم د پښتنو بادشاهانو د لاس ابادۍ نخښې نښاني پاتې دي خو دلته هم دا شناخت د خپل اصالت نه اخوا ښودلې شوے دے چې صابر ئې داسي ځوابوي ـ**

**د تاریخ ائېن به ډنډ وي**
**د تهذیب لاس به مې لنډ وي**
**په تیارو کښې به خړوب یم**
**خو بیا هم په سرېتوب یم**[12]

يعنې که هر څو د پښتون تاريخ په تيارو کښې خړوب دے ولې بيا هم سرېټوب ورته له تاريخه پاتې دے او دا تاريخ په اصل کښې د يو قام د پاره ځلنده باب دے

**۳ ـ معاشي شناخت**

د يو قام د تهذيبي ،کلتوري او تاريخي بقا د پاره اقتصاد تر هر څه مهم دے دپښتون شناخت سره اصل شخړه هم دا روانه ده چې باغي نظم کښې صابر صېب په ګوته کوي چې هم د هغه اقتصاد لوټل کيږي هم ئې د تهذيب ،کلتور او تاريخ پورې ملنډې کيږي

او بيا پښتون ته وائې چې da هر څه ستا دا فائدې د پاره کووم لکه چې وائې!

هغه وي چې اے سړيه
اے کم عقله ليونيه
دا هر څه ستا د فائدې دي
ستا تيارو کښې دا ډيوې دي
دا ستا سرۀ کانيز غرونه
درنې کندې ګړنګونه[13]

ګنې ستا دا خېبر،ملاکنډ، اېلم ،مهابڼ،سپېڼ غر چونغر او شېن غر کانيز غرونه درته هواروم او دا خام مال چې زما په لاس راشي نو دا کار به شي قيمتي به شي او خام مال څه چې تاته به هم هنر درکړم بيا به دې خپله کارخانه کښې نوکر کړم چې د ژوند په خوږو پوهه شي

بيا صابر يوه بله پښتنه په ياد نظم کښې پورته کوي چې ته زما د قام واړۀ نران برتې کوي چرته يې بوځي چې ځواب ورته مېلاويږي چې د دنيا د جرمن سره جګړه ده نړۍ ته د فاشزم خطره ده دې بيا د پښتون په کردار کښې پښتنه کوي چې که جرمن مات شي د فاشزم کور مېرات شي نو ته خو به د تورې ډال سره خپل وطن ته لار شي ماته به زما وطن کنډر پرېږدې ـ نو دلته چې دليل ختم شي بيا ورته وائې!

هغه وے چې ته وحشي ئې
خپل اختيار غواړې باغي ئې

**څه خبر د خپل انجام ئې**
**ته بنده زما غلام ئې**
**ماسره بلها طاقت دے**
زما ډېر لوئي برکت دے
زه چې څه غواړمه کېږي
که څوک مري که پاتې کېږي[14]

او بیا دا مکالمه صابر داسې پائې ته رسوي !

ما وي دا ژوند خو ډېر ګران دے
ستا هر سود زما تاوان دے
ازادی کښې لوئے سکون دے
غلامي خو زړه چاودون دے
ستا د علمه وحشي ښۀ یم
له غلامه باغي ښۀ یم[15]

باغي نظم چې څېړو نو په دې نتېجه رسو چې !

١ ـ پښتون شناخت په تهذیبي،کلتوري او تاریخي توګه د خپل اصالت نه اخوا ښودلے شوے دے

٢ ـ پښتون شناخت رجعت پسند،قدامت پسند،بنیادپرست او د وحشت او دهشت سېمبول نه بلکې ترقي پسند،روښان فکره او د امن،مینې او فنونو ثناخوان دے .

٣ ـ پښتون اقتصادي زیرمې لرې افرادي قوت لرې یو شتمن قام دے خو دغه اقتصاد او افرادي قوت دده په ګټه نه دے راغلے بلکې نورو قامونو ترې ګټې ترلاسه کړي دي .

# حوالي


1. ريخته ,آن لائين ډکشنري
2. اردو انسائيکلو پيډيا
3. سوره الحجرات آيت نمبر١٣
4. امروهي، قاسم رضا ،نديم، سيد مرتضي،حسين فاضل لکهنؤ،جامع نسيم اللغات، اردو کراچي، س ن،ص ٨٥٦
5. Chamber 28th century Richerd clay limited 1983, P 842
6. https://youtu.be/n80CQLcNyqw?si=cXOs708D4dLQUaAO
7. ډاکټر صاحب شاه صابر،کليات،٢٠٢١،مخ١١٨
8. هم دغه اثر
9. هم دغه اثرمخ ١١٨
10. هم دغه اثرمخ١١٨
11. هم دغه اثر مخ١١٩
12. سيد رسول رسا،پېښور، يونيورستي بک ايجنسي خيبر بازار، دويم چاپ ٢٠٠٩، مخ٣٠
13. ډاکټر صاحب شاه صابر ،کليات،٢٠٢١،مخ ١٢٠
14. هم دغه اثر مخ١٢٠
15. هم دغه اثر مخ١٢٠
16. هم دغه اثر مخ١٢١
17. همدغه اثر مخ١٢١